مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۹۲** (از ۱۸ الی ۲۵ حوت ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

**کمیسیون‌های جدید انتخاباتی و سرنوشت انتخابات آینده**

اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی ........................................ ۴

ظرفیت کمیسیون‌های جدید ........................................ ۵

سرنوشت انتخابات آینده ........................................ ٦

**د ښځو نړیواله ورځ او په افغانستان کې د ښځو وضعیت**

د افغان دولت په جوړښت کې د ښځو ونډه ........................................ ۹

د افغان ښځو وضعیت ........................................ ۹

پایله ........................................ ۱۱

## مقدمه

شاوخوا یوه میاشت وړاندې د ټاکنو په قانون کې د ولسمشر غني د فرمان له مخې بدلون راغی او ورسره هم‌مهاله د ولسمشر له لوري د ټاکنیزو کمیسیونونو پخواني غړي هم له دندو ګوښه شول. د ټاکنو په قانون کې له بدلون او د ټاکنیزو کمیسیونونو د پخوانیو غړو له ګوښه کېدو وروسته، د نوي قانون پربنسټ د ټاکنو دواړو کمیسیونونو ته نوي غړي وټاکل شول.

د کمیسیونونو نوي غړي داسې مهال خپلې دندې پیلوي، چې د ولسي جرګې لپاره د تېرو ټاکنو د ۱۵ ولایتونو پایلې لا هم نه دي اعلان شوې او له کبله یې سږ کال په خپله ټاکلې نېټه پارلمان هم افتتاح نه شو. د ټاکنیزو کمیسیونونو پخواني غړي د کمزوري مدیریت په تور له دندو ګوښه او نوي غړي په دې هیله ټاکل شوي، چې د ولسمشرۍ، ولسوالیو او ولایتي شوراګانو راتلونکې ټاکنې به په ښه توګه ترسره کړي.

دا چې د ټاکنیزو کمیسیونونو پخواني غړي ولې په خپلو دندو کې پاتې راغلل او ټاکنیزو کمیسیونونو ته نوي معرفي شوي غړي به د ټاکنو په مدیریت او ترسره کولو کې څومره بریالي ثابت شي؟ هغه موضوعات دي، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې پرې بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه د ښځو نړیوالې ورځې او په افغانستان کې د ښځو وضعیت ته ځانګړې شوې ده. د نړۍ د نورو هېوادونو په شان د ښځو نړیواله ورځ هر کال په افغانستان کې هم نمانځل کېږي. که څه هم په دې ورځ د دولتي چارواکو له لوري، له ښځو د ملاتړ او له ښځو سره د تاوتریخوالي پرضد د مبارزې شعارونه ورکول کېږي؛ خو ښځې په افغانستان کې لا هم له سختو ستونزو سره مخ دي او په ځینو سیمو کې حتی له خپلو بشري او اسلامي حقونو هم بې‌برخې دي.

# کمیسیون‌های جدید انتخاباتی و سرنوشت انتخابات آینده



تعدیل در قانون انتخابات و آوردن اصلاحات در کمیسیون‌های انتخاباتی، یکی از خواست‌های مکرر احزاب سیاسی، نهادهای ناظر بر انتخابات و نهادهای بین‌المللی از حکومت افغانستان بود که بالآخره حدود یک ماه قبل از سوی کمیتۀ مشترک نماینده‌گان احزاب سیاسی، نماینده‌گان نامزدان انتخابات ریاست جمهوری و نهادهای ناظر انتخابات، مسودۀ نهایی تعدیل در قانون انتخابات افغانستان ترتیب داده شد و در (۲۳ دلو ۱۳۹۷ هـ ش) نخست در نشست کابینه مورد تصویب شورای وزیران قرار گرفت و بعداً از سوی رئیس جمهور افغانستان توشیح گردید.

همزمان با تعدیل در قانون انتخابات تمام اعضاء و رئیسان کمیسیون‌های انتخاباتی با صدور فرمان رئیس جمهور غنی از وظایف شان برکنار شدند و از سوی لوی خارنوالی کشور ممنون الخروج اعلام شدند. به ادامۀ عزل اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی، در مطابقت با قانون جدید انتخابات، به هر دو کمیسیون اعضای جدید تعیین شدند و در ۱۳ حوت ۱۳۹۷ هـ ش رسماً وظایف خویش را آغاز کردند.

اینکه با تعدیل در قانون انتخابات و تعیین اعضای جدید کمیسیون‌های انتخاباتی، در مدیریت سیستم انتخابات افغانستان چه تغییراتی خواهد آمد و سرنوشت انتخابات ۲۹ سرطان ۱۳۹۸ هـ ش چه خواهد بود؟ از جمله مواردی اند که در اینجا مورد بحث قرار گرفته اند.

## اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی

اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی که بعد از برکناری شان، اکنون از سوی لوی څارنوالی ممنون‌الخروج اعلام شده‌اند، در اوایل ماه قوس ۱۳۹۵هـ ش به حیث اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی معرفی شده بودند.

اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی در مطابقت با قانون قبلی انتخابات، نخست در میان ٣٦ تن از سوی کمیتۀ گزینش به ریاست جمهوری معرفی شدند و بعد از مصاحبه با رئیس جمهور و رئیس اجرائیه به حیث اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی تعیین شده بودند.

در این میان ۷ تن (ملیحه حسن، نجیب الله احمدزی، عبدالقادر قریشي و وسیمه بادغیسي -برای ۵ سال- گلاجان صیاد، رفیع الله بیدار و معاذالله دولتی -برای ۳ سال-) به عنوان اعضای کمیسیون مستقل انتخابات و ۵ تن دیگر (علی رضا روحانی، عبدالبصیر فایز و غلام دستگیر هدایت -برای ۵ سال- حمیرا حقمل و عبدالعزیز آریایی -برای ۳ سال-) به عنوان اعضای کمیسیون رسیده‌گی به شکایات انتخاباتی، انتخاب شده بودند.

با آنکه رئیس جمهور غنی در مراسم معرفی و سوگند اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی بر استقلالیت کامل این نهاد تأکید کرد و اظهار داشت که حکومت مؤظف به حمایت از کمیسیون‌های انتخاباتی و فعالیت‌های شان است و این نهادهای باید از هرگونه دخالت، محفوظ باشند؛ اما با گذشت حدود یک سال سر و صداهای مبنی بر موجودیت فساد و ضعف کاری در کمیسیون‌های انتخاباتی بلند شد و در گام نخست امام محمد وریماچ، رئیس دارالانشاء کمیسیون مستقل انتخابات به دلیل مدیریت ضعیف و وجود فساد اداری از سوی رئیس جمهور غني برکنار شد.

چندی بعد از برکناری وریماچ به دلیل بروز اختلاف‌ها میان اعضای کمیسیون مستقل انتخابات، نجیب‌الله احمدزی، رئیس این کمیسیون نیز به حکم رئیس جمهور غنی برکنار شد. هرچند احمدزی برکناری خویش را غیر قانونی خواند و گفت که حلقاتی مربوط به ارگ صلاحیت‌های کمیسیون مستقل انتخابات را در قبضۀ خود در آورده است؛ اما ریاست جمهوری اعلام کرد که رئیس جمهور غنی به اساس فیصله و مطالبه کمیسیون انتخابات، حکم برکناری رئیس کمیسیون انتخابات را صادر کرده است.

در کل، به دلیل موجودیت اختلافات داخلی میان اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی، عدم موجودیت هماهنگی لازم میان کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی و نیز موجودیت فساد اداری در داخل این کمیسیون‌ها و مداخلۀ دست‌های بیرونی در کار کمیسیون‌ها، هیچ یک از اعضای پیشین این کمیسیون‌ها، مدت قانونی کاری خویش را پوره نکرد و اخیراً با تعدیل قانون انتخابات کار کمیسیون به اعضای جدید سپرده شد.

## ظرفیت کمیسیون‌های جدید

اعضای جدید کمیسیون های انتخاباتی مطابق قانون جدید انتخابات، به اساس رأی ۱۸ کاندید ریاست جمهوری، انتخاب شدند و بعداً از سوی رئیس جمهور غنی به کمیسیون‌های انتخاباتی معرفی شدند. اعضای جدید به تاریخ ۱۴ حوت ۱۳۹۷ هـ ش در نخسین نشست داخلی خویش، بعد از انتخابات درون‌کمیسیونی، هیئت رهبری هر دو کمیسیون را برگزیدند.

اعضای جدید کمیسیون مستقل انتخابات، حوا علم نورستانی را به حیث رئیس، سید عصمت الله مل را به حیث معاون و مسافر قوقندی را به حیث منشی این کمیسیون انتخاب نمودند. همچنان در کمیسیون شکایات انتخاباتی زهره بیان شینواری، به حیث رئیس، مولوی دین محمد عظیمی بحیث معاون و محمد قاسم الیاسی بحیث منشی و سخنگوی این کمیسیون انتخاب شدند. در کنار این از سوی رئیس جمهور غنی، حبیب الرحمن ننگ به عنوان رئیس دارالانشاء کمیسیون مستقل انتخابات و چمن شاه اعتمادی به عنوان رئیس دارالانشاء کمیسیون شکایات انتخاباتی تعیین شدند.

هرچند حکومت با تعدیل در قانون انتخابات و نقش دادن به احزاب سیاسی، نهادهای ناظر انتخابات و نامزدان انتخابات ریاست جمهوری در گزینش اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی، تاحدی توانست مخالفان سیاسی‌اش را راضی کرده و اعتماد آن‌ها را به انتخابات آینده جلب کند. از سویی هم تعدیل در قانون انتخابات و تعیین اعضای جدید کمیسیون های انتخاباتی بر اساس توافق نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، به رئیس جمهور غنی کمک خواهد کرد، تا در آینده هر ضعف مدیریتی و تخنیکی که در کار کمیسیون‌های انتخابات به میان می‌آید، از انتقادهای احزاب سیاسی، نامزدان انتخابات ریاست جمهوری و نهادهای ناظر انتخابات خود را بکشد، چون در تعیین اعضای جدید همه نقش داشتند؛ اما در کل از ظرفیت کاری و مدیریت درست انتخابات توسط اعضای جدید نگرانی‌هایی وجود دارد.

کمیشنران جدید کمیسیون‌های انتخاباتی در حالی به کارشان آغاز کردند که برای اولین بار رئیسان کمیسیون‌های انتخاباتی دو خانم برگزیده شدند. نهادهای ناظر انتخابات، با آنکه روند گزینش اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی را شفاف می‌پندارند؛ اما از ظرفیت کاری و مدیریت درست افراد انتخاب‌شده، نگران اند. در میان اعضای جدید کمیسیون‌های انتخاباتی بیشتر اعضای دارای مدرک لیسانس اند و در بخش مدیریت انتخابات نیز تجربۀ کافی ندارند.

## سرنوشت انتخابات آینده

بر اساس تقویم اخیر اعلام شدۀ کمیسیون مستقل انتخابات، قرار است انتخابات ریاست جمهوری همزمان با انتخابات شوراهای ولایتی، شوراهای ولسوالی و انتخابات ولسی جرگه ولایت غزنی در ۲۹ سرطان سال ۱۳۹۸هـ ش برگزار شود؛ اما پرسش این است که آیا انتخابات مطابق به تقویم اعلام شده برگزار خواهد شد یا خیر؟

در این رابطه بصورت کلی باید گفت که سرنوشت انتخابات آیندۀ در گام نخست به آیندۀ وضعیت سیاسی و امنیتی کشور و در گام دوم به امکانات، ظرفیت و کارکرد کمیسیون‌های انتخاباتی بر می‌گردد.

**وضعیت سیاسی او امنیتی:** در کل با آغاز گفتگوهای صلح امریکا ـ طالبان و ناخوشنودی حکومت افغانستان از این پروسه، وضعیت سیاسی و امنیتی کشور در حالت نگران کنندۀ قرار دارد. با آنکه با آغاز گفتگوهای امریکا ـ طالبان در رابطه به صلح در افغانستان امیدها برای پایان یافتن جنگ کنونی بیشتر شده است؛ اما مخالفت حکومت از این پروسه و تشدید حملات هوایی نیروهای مشترک بر اماکن مسکونی و مذهبی ملکی، نگرانی‌ها را در رابطه به وخیم شدن وضعیت افغانستان بیشتر ساخته است.

اختلاف‌ها میان حکومت و سیاستمداران کشور در رابطه به پروسۀ صلح با طالبان، مسئلۀ مهمی دیگر در رابطه به آینده سیاسی کشور است. بیشتر ستاستمداران افغان، حکومت را به انحصار قدرت متهم می‌کنند و موقف‌های اخیر مقامات حکومتی را در رابطه به روند صلح با طالبان، دامن زدن به تشدید جنگ می‌خوانند.

با در نظر داشت این وضعیت، برگزاری انتخابات آینده به چگونگی نتیجۀ گفتگوهای صلح با طالبان برمی‌گردد و می‌توان گفت که سرنوشت انتخابات ریاست جمهوری را نتیجۀ گفتگوهای صلح مشخص خواهد ساخت. در این صورت اگر واقعا گفتگوهای صلح با طالبان پیشرفت کند و قرار باشد که امریکا با این گروه به یک توافقی برسد، احتمال زیاد این است که انتخابات ریاست جمهوری یک بار دیگر برای مدتی به تاخیر انداخته شود.

**ظرفیت کمیسیون های جدید:** در صورتیکه حکومت با موجودیت وضعیت فعلی به برگزاری انتخابات اقدام کند. در آن صورت چگونگی شفافیت و مدیریت انتخابات به کارکرد کمیسیون‌های انتخاباتی بر می‌گردد. در این صورت بر بنیاد اینکه اعضای جدید کمیسیون‌های انتخاباتی از طرف احزاب سیاسی برگزیده شده‌اند، گمان می‌رود که عصبیت حزبی روی اعضای کمیسیون تأثیر وارد کرده، توافقات کاری اعضاء و شفافیت روند انتخابات را به چالش بکشد. همچنان با در نظر داشت اینکه اعضای جدید کمیسیون‌های انتخاباتی تجربه کافی انتخاباتی ندارند، امیدی وجود ندارد که برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، انتخابات پارلمانی غزنی، شوراهای ولایتی و ولسوالی‌ها بر اساس تقویم فعلی انجام گردد.

برعلاوۀ این همه موارد مهم در رابطه به برگزاری انتخابات آینده، بودجۀ انتخابات و نیز وضعیت امنیتی کشور است. در این دو مورد حکومت افغانستان به چالش جدی روبرو است؛ از یک‌سو نزدیک به نیمی جغرافیای افغانستان از کنترول حکومت خارج است و از سوی دیگر تاکنون حکومت افغانستان از حمایت مالی جامعه جهانی در انتخابات افغانستان تعهدی نهایی دریافت نکرده است. پایان

# د ښځو نړیواله ورځ او په افغانستان کې د ښځو وضعیت



د مارچ اتمه د ښځو نړیوالې ورځې په نوم نومول شوې او دغه ورځ هر کال د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې نمانځل کېږي. د نورو هېوادونو په شان هر کال په افغانستان کې هم دغه ورځ، په ځانګړې توګه په دولتي ادارو کې د چارواکو له لوري او د ښځو د ملاتړ په نوم د مختلفو بنسټونو له لوري، ښه ګرمه نمانځل کېږي.

سږ کال هم د ښځو نړیواله ورځ په افغانستان کې داسې مهال ونمانځل شوه، چې د ملکي تلفاتو په اړه د یوناما د کلني راپور پر بنسټ، یوازې په ۲۰۱۸م کال کې ۱۱۵۲ ملکي ښځو ته د جګړې له امله مرګ‌ژوبله اوښتې وه. پر جګړه سربېره بېوزلي، اعتیاد، بېسوادي، بشري تاوتریخوالی او دې ورته ګڼ نور هغه موارد دي، چې په افغانستان کې یې د ښځو ژوند له ګڼو ستونزه سره مخ کړی دی.

په افغانستان کې د ښځو د ملاتړ په نوم بېلابېل بنسټونه فعال دي؛ خو ډېری یې د پروژو تر کچې دي او په یوه محدوده دایره کې فعالیت کوي. په بل اړخ کې بیا د افغانستان په ډېری کلیو او بانډو کې ښځې لا هم په سخت وضعیت کې ژوند کوي او د ژوند له لومړنیو آسانتیاوو بېبرخې دي.

دلته مو په افغانستان کې دښځو د وضعیت پر رښتیني انځور، د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي او د دې تاوترخوالي په لاملونو بحث کړی دی.

## د افغان دولت په جوړښت کې د ښځو ونډه

د افغانستان د احصائیې مرکزي ادارې د ټولنیزو او ډیموګرافیکي احصائیو د ریاست د معلوماتو له مخې، په ۱۳۹٦هـ ش کال کې د افغانستان نفوس ۲۹.۷ میلیونه تنه و، چې له دې ډلې ۱۴.۵ میلیونه یې ښځینه او پاتې نور یې نارینه دي.

له ۲۰۰۱م کال وروسته د نوي نظام په رامنځته کېدو سره، د ښځو د وضعیت د ښه‌والي په موخه هڅې وشوې. د نوي نظام په رامنځته کېدو سره د نجونو پرمخ ښوونځي او پوهنتونه پرانیستل شول او په دولتي ادارو کې یې د جذب پروسه ورځ تر بلې زیاته شوه.

د پوهنې وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۳۹٦هـ ش کال کې د ښوونځیو د زده کوونکو شمېر ۹ میلیونه او ۳۸۹ زره کسانو ته رسېده، چې له دې ډلې شاوخوا درې میلیونه او ٥٦۴ زره یې نجونې وې. دغه‌راز د احصائیې مرکزي ادارې د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۳۹٦هـ ش کال کې په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې ۳٦۹۳۱۷ کسانو زده کړې کولې، چې له دې ډلې یې ۹۱۸۲٦ تنه ښځینه وې.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ، اوس‌مهال په امریکا متحده ایالات، تاجکستان، سویس او ناروې هېوادونو کې د افغان دولت د سفارتونو په رأس کې ښځې دي. همدارنګه د افغان دولت په اوسنۍ کابینه کې هم درې وزارتونه د ښځو له لوري رهبري کېږي او لس نورې ښځې په بېلابېلو وزارتونو کې معینانې دي. تازه د ټاکنو د دواړو کمیسیونونو ریاستونه هم دوو ښځو ته سپارل شوي دي. د افغانستان د پارلمان په شپاړسمه تقنینې دوره کې هم د ښځو ونډه حتی د سیمې او نړۍ د یو شمېر پرمختللو هېوادنو (فرانسه، هند، روسیه. جاپان او پاکستان) په پرتله زیاته وه. پر دې ټولو سربېره، په اوسني نظام کې د افغان دولت په ټولو ملکي او نظامي ادارو کې ګڼ شمېر ښځینه په دندو بوختې ده.

## د افغان ښځو وضعیت

افغانستان هغه سنتي او مذهبي ټولنه ده، چې لا هم د دې هېواد په ډېری سیمو کې د ښځو له لوري د میراث غوښتل یو ستر عیب ګڼل کېږي. له همدې یوې بېلګې ډېر واضح ښکاري، چې په افغاني ټولنه کې د بې‌سوادۍ او کم‌سوادۍ له کبله د افغانستان د نفوس یوه لویه برخه له خپلو طبیعي او اسلامي حقونو څخه محرومه ساتل شوې ده.

په تېرو ۱۸ کلونو کې د ښځو د وضعيت د ښه‌والي لپاره د افغان دولت په چوکاټ کې د ښځو چارو وزارت په نوم، يو ځانګړی وزارت رامنځته شو. د ښځو د ملاتړ په نوم لسګونه ټولنې فعالې شوې، نړيوالې ټولنې هم د ښځو د وضعيت د ښه والي په نوم په ميليونونو ډالر مصرف کړل. دغه‌راز له ښځو د ملاتړ او د دوی د بشري حقونو په نوم ځينې قوانين هم تصويب شول؛ خو له دې ټولو‌سره ـ سره، لا هم په افغانستان کې ښځې له سختو ستونزو او تاوتريخوالو سره لاس او ګرېوان دي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د معلوماتو پر بنسټ په ۱۳۹۴هـ ش کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۵۱۳۲ پېښې ثبت شوې وې. په دغه کال کې د فرخندې زړه بوږنوونکې پېښه وشوه، چې د ارګ په څو کيلومترۍ کې د قران کريم د بې‌حرمتۍ په تور د لسګونو کسانو له‌خوا په عام محضر کې ووهل شوه او د زياتو وهلو له کبله ووژل شوه، بيا موټر پرې وخېژول شو او بيا وسوځول شوه. په ۱۳۹۵هـ ش کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۵۵۷۵ پېښې ثبت شوې وې؛ خو دغه کچه په ۱۳۹٦هـ ش کال کې راکمه شوې وه او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۴۳۴۰ پېښې ثبت شوې وې. دا ټولې هغه پېښې دي، چې د حکومت تر کنترول لاندې سيمو په ښارونو کې ثبت شوې دي، په داسې حال کې چې د افغانستان نږدې نيمه خاوره د وسله‌والو مخالفينو تر کنترول لاندې ده او په دغو سيمو کې د ښځو د وضعيت په اړه معلومات نشته.

د ښځو د ملاتړ په نوم چې کوم لګښتونه کېږي، ډېری يې په ښارونو پورې محدود دي، په داسې حال کې چې د افغانستان ۲۱.۱ ميليونه وګړي کليوالي خلک دي. په روانو حالاتو کې په ښارونو کې ځينې ښځې د "ډيموکراسۍ" او "بيان آزادی" په نوم ورځ تر بلې له خپلو ديني او ملي ارزښتونو څخه فاصله اخلي او په دې برخه کې د افراط قرباني شوې ښکاري. ښځې د ښارونو دننه د "ډيموکراسۍ" او "بيان آزادی" تر سيوري لاندې په بېلابېلو ډولونو د جنسي ځورونو او بشري تاوتريخوالو سره مخ دي. پيک څېړنيز مرکز، د يوې څېړنې په پايله کې ويلي چې د افغانستان په نظامي بنسټونو کې له هرو پنځو ښځو څلور يې د خپلو همکارانو له لوري له جنسي ځورونې سره مخ دي.

له ښاره لرې په کليوالو سيمو کې ښځې بيا تر ډېره له خپلو بشري او اسلامي حقونو څخه بې‌برخې دي. په بدو کې د ښځو ورکړه، په کم عمر ودونه، کورنی تاوتريخوالی، له زده‌کړو لرې‌والی، روغتيايي آسانتياوو ته نه لاس‌رسی، د کور دننه او بهر د سختو او درنو کارونو ترسره کول او دې ورته ګڼ نور هغه موارد دي، چې په ډېری کليوالو سيمو کې ښځې ورسره مخامخ دي او د دوی پر ژوند يې منفي اغېز کړی دی.

## پایله

په افغانستان کې له څلورو لسیزو راهیسې روانې جګړې د نورو افغانانو په شان د ښځو پر ژوند او وضعیت هم خورا منفي اغېز کړی دی؛ جګړې لسګونه زره ښځې کونډې او بورې کړې، خپل کورونه او هستې يې ترې واخیستې، د خپل ځان او بچو لپاره د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره يې خيرات غوښتلو او سختو کارونو ته مجبوره کړې.

پر دې سربېره د افغانستان په جګړهځپلې ټولنه کې، ښځو ته د اسلام په سپېڅلي دين کې له ورکړل شوو حقونو څخه ناخبري، جهالت او ناپوهي، پر ټولنه د پرديو فرهنګونو اغېزې، فساد، قانون ته نه درناوی او دې ورته نور هغه څه دي، چې په افغانستان کې يې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي پېښې زياتې کړې دي.

په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د کمولو لپاره اړتيا ده، چې د ښځو د ملاتړ په نوم د نړيوالې ټولنې او افغان دولت له لوري ميليونه ځانګړې شوې پيسې په رښتينې توګه د ښځو د وضعيت د ښهوالي لپاره ولګول شي، نه دا چې يوازې په ښارونو کې د شعاري غونډو او ځينې بېګټو پروژو پر تطبيق ولګول شي. اړتيا ده چې د ښځو د ملاتړ لپاره په خپله ټولنه کې د ښځو د بشري او اسلامي حقونو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړل شي، ښځو سره د تاوتريخوالي لاملين محاکمه شي او د هېواد په لرې پرتو سيمو کې ښځو ته لومړنيو بشري آسانتياوو ته د لاسرسي زمينه برابره شي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com